**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۳/۰۷

# ښځې او نجونې په بدو کې ورکول

## د نجونو او مېرمنو سپکاوی دی

## د مارچ اتمه، د ښځو نړیواله ورځ

**سږکال هم لکه د تېرو کلونو په شان غواړم د ښځو د نړیوالي ورځې په پار ګڼې داسې مقالې ولیکم چې د مېرمنو په باب زموږ د ټولنې منفي او مثبت افکار څرګند کړي، څو وتوانېږم چې په ټولنه کې او د خلکو په افکارو کې د افغان مېرمنې اوسنی حالت خلکو ته وښیم. په مثبتو پاینتونو به یې خامخا وياړو او په منفي به یې هغه څوک زورېږي چې د ښځو د حقونو پلوي دي، پر متضررې خو هسې هم سور اور بل دی. د دې زورېدو او اور بلېدو تر څنګه به مو ټوله هڅه دا وي چې د مېرمنو په باب د خلکو د اذهانو منفي اړخ په مثبت ډول بدل کړو.**

**که زما  په مقالو کې د تلې منفي خوا درنه وي، ما به نه ملامتوئ، همدا مو خلک دي، همدا مو ټولنه ده او همدا یې د ښځو په باب نظر دی چې باید د بدلولو هڅې یې ګړندی کړو. زه چې د ښځو په باب له دوی سره د تاوتریخوالي او منفي کړونو یادونه کوم، اصلي موخه مې د ښځو د غږ جګول او له دې ناوړه حالت او ستونزو نه د دوی ژغورل دي.**

**افغان مېرمن:**

**د مارچ د اتمې تر لمانځلو او ډالیو نه مو زه درتېره یم،**

**مه مې وهئ!**

**مه مې رټئ!**

**مه مې ښکنځئ!**

**نور څه مه کوئ، د انسان په سترګه راته وګورئ!**



صورت مې خپل واک یې د بل دی
صورته خاورې شې چې نور دې واک لرینه

په بدو کې د نجونو او ښځو ورکول، تر ټولو بد کلتور او دود دی چې له ډېرو کلونو راپه دېخوا زموږ پر ټولنه او خلکو باندې لکه خپسه حاکم دی، په تېره پر نجونو او ښځو باندې د ظلم او تاوتریخوالي انتها یې ګڼلی شو.

له بده شامته چې د نړۍ له دومره پرمختګ، د علم او تکنالوژۍ د پرمختګ په دې عصر کې، زموږ خلک د همدغسې یو دود په جال کې راګیر دي چې د نړۍ په هیڅ قوم او خلکو کې به یې مثال پیدا نه  شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ګناه، جرم، وژنه او... به یو نارینه کوي، د ګناه پیتی به یې نجوني او ښځې پر اوږو وړي، هغه هم د ټول عمر له پاره او د ټول ژوند د بربادۍ په بیه.

د دې دود پلویان بیا کله، کله د خپل دې بد عمل د توجه له پاره یو نیم داسې متل یا خبره په مخکې درته کېږدي چې باید هیڅ یې و نه کاروې. مثلاً درته وایي چې:

**«له ښاره ووزه، له نرخه مه وزه!»**

که بیا د استدلال ور ورسره پرانیزې چې سمه ده ورووره، خو دا راته ووایه چې:

ـ دا نرخ چا رامنځته کړی؟

ـ او د څه له پاره؟

بیا نو پټه خوله درته ناست وي او پسې شا به رنګارنګ ټاپې دربندي لګوي.

ډېری خلک چې د دې دود پلویان دي او عملي کوي یې هم، داسې عقیده لري چې:

«په بدو کې د نجونو ورکړه د افغانانو ترمنځ یو پخوانی دود دی او له مخې یې کله چې د کورنی کوم غړی څوک ووژني او یا هم کوم بل جرم ترسره کړي، نو د قاتل کورنی د قومي مشرانو په منځګړیتوب او پرېکړه یوه یا څو نجونې د مقتول کورنی ته په بدو کې ورکوي.

د یاد دود څخه د ځینو پخوانیو خلکو باور دا دی چې ګواکې په دې توګه به د اړوندو کورنیو شخړه پای ومومي او وینه تویېدنه به بنده شي، خو سربېره یې هېڅکله هم د بدیو دښمني په دوستۍ نده بدله شوې...»

ظاهراً به داسې وي، خو په حقیقت کې د نورو ورانیو او دوښمنیو پیل هم دی. په بدو کې د ورکړل شوې جلۍ یا ښځې ټول ژوند څکه تریخ وي چې دا نوې کورنی هغې ته د دوښمن له کوره د یوې راغلي متاع په سترګه ګوري نه د نږور یا د دې کورنی د یوغړي په سترګه او اولاد یې هم که وشي بد چلن ورسره کېږي او په دې ډول نوې عقدې او نوې ستونزې راپیل کېږي.

په بدو کې د ورکړل شوو نجونو او ښځو کوم ارقام چې دولتي مقامات وړاندې کوي، هغه ناسم دي، څکه چې دولتي مقامات د افغانستان د ټولو سیمو سروې نه شي کولای. داسې ځایونه شته چې دولت د خلکو د ژوند په هیڅ برخه باندې نه خبر دی نه مرسته ورته رسولای شي او نه...

دغه څو لاندې کرښې چې په بدو کې د ورکړل شوو نجونو او ښځو ارقام څرګندوي، د دوه زره یوویشتم کال د فبرورۍ پر نهمه خپرې شوې دي:

«... رسمي سرچینې وايي، په تېرو نهو کلونو کې د بد ورکولو ۴۱ قضیې ثبت شوې چې له ډلې یې ۱۱هغه یوازې په ۲۰۲۰کال کې ثبت شوې دي...

په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسون مطبوعاتي مشر ذبیح الله فرهنګ وايي، له ۲۰۱۱ تر ۲۰۲۰کال پورې په افغانستان کې د بد ورکولو ۳۰ قضیې ثبت شوې دي.

خو په بدو کې د نجونو د ورکړې غیر رسمي شمېرې په ډاګه کوي چې اوس هم دا سلسله د هېواد په لرو پرتو سیمو کې روانه ده.

د تاند د معلوماتو له مخې تازه په دې لړ کې د ننګرهار ولایت خوګیانو ولسوالي کې دا ډول قضیه را پېښه شوې چې د دوو کورنیو د دښمنۍ په بدل کې یوه ۱۴ کلنه نجلۍ په بدو کې ورکړل شوې ده.

یاده (نجلۍ) د دوه کلني شخړې چې ورور یې یکي د هغې د خسرګنۍ یو تن په ډزو وژلی وو یو ۴۵ کلن سړي ته چې بل واده هم لري ورکړل شوې ده.
دا پېښه شاوخوا یو نیمه میاشت وړاندې رامنځ ته شوې چې تاند هڅه وکړه په اړه یې له یادې نجلۍ سره خبرې وکړي؛ مګر له هغو سره بریالي نشو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د نجلى قاتل ورور شرافت «مستعار نوم» تاند سره خبرو کې وايي، چې خپله هم په دې فيصله نا خوښه دی، خو وايي د کلي او جرګې فيصله يې د سيمې وروستی فيصله وي.

هغه وايي: «ګناه مانه وشوه مجرم زه يم خو قرباني مې خور ورکړه، ژوند يې که څه هم ډېر بد ندی خو د بدو ورکړه د بدو وي.»

د قرباني شوې انجلی ورور وايي په خور يې ظلم نکيږي؛ خو د تاند د معلوماتو له مخې اصلي کيسه داسې نده.

د يادې نجلی د کاکا زوی منجمد «مستعار نوم» بيا وايي چې د کاکا په لور يې سخت ظلمونه روان دي او ان تېره اوونۍ يې خاوند زندی کړې وه چې وروسته يې بل ورور ترې خلاصه کړې ده.

هغه وايي:«جنۍ زما د کاکا لور ده او زما د خسرګنی رشته دارو ته يې بدو کې ورکړه، ډېر بد کار شوی مورږ ټول پرې خفه يو خو خاوند يې جرګې ته خط ورکړی چې جنۍ به نه زوروي او خوشاله به يې ساتي.

د دښمنۍ مسئله د څلورو کلونو پخوانۍ وه او اوس يو بل ته ترې ګواښ هم نه وو مګر نه پوهيږو مشرانو ولې داسې پرېکړه وکړه.»

هغه خلک چې نجونې او ښځې په بدو کې ورکوي، هغوی نجونو او ښځو ته د انسان په سترګه نه ګوري، بلکې د يوې متاع په ډول يې تبادله کوي. انساني کرامت، د متضررې راتلونکی ژوند او نورې هغه ستونزې چې له دې ورکړې رامنځته کېږي، هغه يې عاملين هېڅ په نظر کې نه نيسي، په دې ډول دا خلک په ټولنه او ټولنيز ژوند کې د نويو ستونزو نيالګي ږدي چې تريخ ثمر يې د راتلونکو نسلونو خولې او ژوند ورتريخوي.

زمونږ د ټولنې د نه جوړېدو يو دليل د تعليم کموالی دی او بل تر ټولو لوی دليل يې دا دی چې مونږ ښځو ته په ارزښت نه ورکولو سره خپل نيم بدن غوڅ کړی دی.

دا يو منلی حقيقت دی چې د ټولنې د نه پرمختګ يو دليل دا دی چې ښځې ته ارزښت نه ورکول او په بېلابېلو بنو د هغې ښکنځل دي. دا څو جملې د انګليس د يو پوه صدراعظم چرچيل خبرې دي چې ښاغلي عبيد هاشمي راژباړلې دي:

«چرچيل: که غواړئ چې ټولنه پرمختګ و نه کړي، ښځه وښکنځئ،

د يوې ټولنې ښځې محدودې کړئ،

هغوی حقيرې او خدمتګارې وګاکئ،
ريشخندې يې کړئ،
داسي يې کړئ چې لويه هيله يې وادۀ او لوی هنر يې آشپزي او خياطي وي،

داسی بلا پرې نازله کړئ چې له ټولنې وډار شي،

د پلرونو په ذهنونو کې يې داسې فکر وکړئ تر څو پدې باوري شي چې لورګانې يې بايد په يو قفس کې تربيه شي،

کتاب او قلم يې له لاسونو واخلئ پر ځای ورته ستنه او ټوکر ورکړئ،

په ځوانانو يې داسې کار وکړئ چې له مخالف جنس نه جسماً لېرې او فکراً دوی سره وي.

او چې هر چا د ښځو د ازادۍ کوښښ وکړو هغه شيطان او د خدای دوښمن معرفي کړئ.

زه تضمين درکوم که په داسې ټولنه زرګونه کلونه هم تېر شي پرمختګ به ونهٔ کړي.

وينستون چرچيل

ژباړه:ع.هاشمي»

تر هغو پورې چې مونږ له ښځې سره بد چلن کوو، د کور په څلورو دېوالو کې يې رااېساروو، د څاروېو په سترګه ورته ګورو، د «ښځه يا په کور، يا په ګور» فورمول پرې تطبيقوو، له تعليم ـ ښونځې او پوهنځې څخه يې لرې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ساتو، د هر څه واک يي په نارينه پورې تړو او... همدا به مو حال وي او د همداسي ستونزو په جالونو کي به راګير يو.
نور مو خوښه!

**موږ سره ښايي چي خپل نيمايي بدن (ښځې)؛ په خپله غوښ نه کړو،**

**موږ بايد د ښځو درناوی وکړو، د زدکړو او ښه ژوند زمينه**

**ورته برابره کړو، طبعي حقونه يې تر پښو لاندې نه کړو،**

**دويمه درجه انسان يې ونه ګنو او...**

**او په تشو خبرو سره د مارچ د**

**اتمي ورځي د لمانځلو پر ځای،**

**عملاً داسي څه وکړو چي**

**ښځه د ټولني له خوا،**

**له بل کړای شوي**

**اور نه را وباسو.**

(آصف بهاند)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ